# د سوره اخلاص تفسير (رموز بېخودي مثنوي)

**دکتور علامه محمد اقبال (رح)**

Ketabton.com

لیکوال: محمّد شعیب
ژباړه: رحمت شاه (فراز)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب په اړه:

**نوم:** د سوره اخلاص تفسیر (رموز بیخودي مثنوي)

**لیکوال:** مُحَمَّد شعیب

**ژباړه:** رحمت شاه (فراز)

**کمپوز:** خپله لیکوال

**د ژباړونکي:**

اړیکشمېره او واټس اپ: 0092 311 42 25 611

او برېښنالیک: rsfaraz4@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لیکلړ

د ژباړن سریزه ........................................................................................................5
د لیکوال سریزه ........................................................................................................6
په ((رموز بیخودي)) کې د سوره اخلاص تفسیر ...........................................................................7
د اقبال تفسیري ټکو ته پرتله ییزه کتنه:.............................................................................8
قل هوالله احد ........................................................................................................ 15
الله الصمد............................................................................................................ 20
لم یلد ولم یولد...................................................................................................... 29
ولم یکن له کفوا احد ................................................................................................ 34

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ژباړن سریزه

د ((سوره اخلاص تفسیر)) د پاکستاني لیکوال مُحَمَّد شعیب په زیار د ستر شاعر چې نړۍ یې د ((شاعر مشرق)) په نوم پېژني، علامه مُحَمَّد اقبال رح په شاهکار مثنوي (رموز بیخودي) کې د سوره اخلاص د بېل او ځانګړي تفسیر اردو ژباړه ده. د کتاب لیکوال هره مسره خپلواکه او بېله ژباړلې وه، چې دا کار یو څه ستونزمن هم دی، خو نوموړی په بریالیتوب سره په دې توانېدلی چې د علامه صېب مفهوم او مطلب په ښه ډول را ټول او وړاندې کړي. زما ژباړه له دې سره توپیر لري. ما یوازې د همدې لیکوال پر ژباړه بسنه نه ده کړې، بلکې د اشعارو د لا وضاحت لپاره مې د پروفیسر حمید الله شاه هاشمي د ((شرح کلیات اقبال فارسي)) له اردو ژباړې او تشریح څخه هم ګټه اخیستې او د کتاب ښه مې هم د هاشمي صېب کتاب ته ورته کړې. د هاشمي صېب د کتاب یوه ځانګړنه دا هم وه چې د ژباړې ترڅنګ یې اشعار تشریح کړي هم وو او د ((ترجمه اور تشریح)) سرلیک یې ورکړی وو؛ ما هم کټ مټ همدا لاره را خپله کړه.

د کتاب پر موضوع، ماهیت، څرنګوالي او ارزښت ((ډاکټر عزیز احسن)) ارزښتناکې خبرې کړې چې فکر نه کوم، له هغه وروسته دې هم پر کتاب نور څه ویلو ته اړتیا وي. خو یوازې د خپلې ژباړې په هکله به یو څو خبرې- چې ښایي اړینې هم دي- وکړم.

یو، کتاب یوازې د یوه کتاب پر ژباړه نه دی ولاړ، بلکې له نورو سرچینو نه هم پکې ګټه اخیستل شوې. دوه، د ژباړې په برخه کې مې تر ډېره هڅه کړې چې له شخصي نظر، ځاني تشریح او تفسیر څخه ځان وساتم او ټول باور مې پر خپل سرچینو کړی. درې، په یو ځای کې له ستونزې سره مخ شوم، هغه دا چې په کتاب کې ځای ځای اردو شعرونه هم راغلي وو چې د هغو د ژباړې پر مهال یو څه ټکنی شوم؛ شعر په شعر ژباړل مې له وسه وتلې خبره وه او کله چې شعر نثر ته اړول کېږي، خامخا به یو څه اضافي کلمات او مفاهیم ور زیاتوې (لکه په یوه شعر کې داسې شوي هم دي)، نو له دواړو خواوو تړلی وم. خو په پای کې مې پرېکړه داسې وکړه چې ټول شعرونه ټکي په ټکي را ژباړم. په دې هڅه کې ځینې داسې شوو چې د شعر کولو یوه ارادي هڅه هم پکې برېښي، خو پوهېږم چې شعر شوي نه دي او که شوي هم وي نو د لوی ښښتن پېرزوینه به وي؛ او ځینې یې داسې دي چې نه نثر دي او نه شعر، خو دومره خامخا ده چې د شاعر مطلب ته به مې زیان نه وي اړولی.

په پای کې د کتاب د لا سموالي او غوره والي لپاره د لوستونکو نېکو لاربښوونو، مثبتو نیوکو او غوره وړاندیزونو ته سترګې په لار یم او له خدای تعالی څخه د خپلو هېوادوالو لپاره د دې کتاب د ګټورتیا غوښتنه کوم.

ستاسو

رحمت شاه (فراز)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ليکوال سريزه

د علامه اقبال په مثنوي ((رموز بيخودي)) کې مې چې له کوم وخت راهيسې د سوره اخلاص منظوم تفسير لوستى وو، له هماغه مهاله مې په زړه کې دا هيله وه چې څومره ژر امکان ولري، خپلو نورو ملګرو ته يې هم وړاندې کړم. د همدې موخې له مخې مې دا اشعار بيا بيا ځلې ولوستل. د دې اشعارو اردو او انګليسي ژباړې مې څو ځله ولوستې. د پېچلو کلمو معناوي مې په سيندونو کې ولټولې او بيا مې د خداى په نامه کار پرې پيل کړ. هيله خو دا وه چې د دې مثنوي يوه بشپړه پېژندنه وکاږم خو دې ته په کتو چې د اقبالياتو په ډګر کې زما حيثيت د ښوونځي د يوه ماشوم هومره هم ندى، له همدې امله له خپل دې هوډ څخه تېر شوم. او د تعارف په پار مې د ډاکټر عزيز احسن هغه مقاله ور زياته کړه چې ډاکټر صېب پکې د دې تفسير په څرګندو اړخونو رڼا اچولې ده. او د هغه پرتله يې د نورو مفسرينو له روايتي تفسيرونو سره کړې ده.

په هر کار کې د لا ښه والي ځاى خامخا وي. د لوستونکو نظرونه او وړانديزونه به زما لپاره يو غوره لارښود وي چې په څه ډول د اقبال کلام په اغېزمن ډول نوي نسل ته وړاندې شي.

د دعاوو په هيله

محمّد شعيب

۳۰ اکتوبر ۲۰۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اقبال په مثنوي ((رموز بیخودي)) کې د سوره اخلاص تفسیر

**ډاکټر عزیز احسن**

اقبال یوه شپه حضرت سیدنا ابو بکر صدیق رض په خوب ولید او له هغه څخه یې د اسلامي امت د وروسته پاتې والي او زوال د له منځه وړو او له زیان څخه د ژغورنې نسخه وپوښتله، نو هغه ورته وفرمایل: آب و تاب از سوره اخلاص گیر. ژباړه: د اخلاص له سورت څخه رڼا ترلاسه کړه.

د دې خوب یادونه علامه صېب په خپلې مثنوي کې په ډېره ښکلې جامه کې راوستې ده. هغه لیکي:

**من شبی صدیق را دیـــــدم بخواب — گل ز خاک راه او چیــــدم بخواب**

**ان "امن الناس" بر مـــــولای ما — ان کــــلیم اول سیــــنای ما**

**همت اوکشت مـــــلـت را چو ابر — ثانی اسلام و غار و بـــــدر و قبر**

**گفتمش "ای خاصهء خاصـــانِ عشق — عشقِ تو سر مطلعِ دیـــــوانِ عشق**

**پخته از دستت اســـــاس کار ما — چاره ی فرما پـــــــی ازار ما**

**گفت "تا که در هوس گـــردی اسیر — اب و تاب از سوره اخــــلاص گیر**

**این که در صد سینه پیچید یک نفس — سری از اسرار توحید اســـت و بس**

**رنگ او بر کن مثــــال او شوی — در جهان عکس جمــــال او شوی**

اقبال فرمایي: یوه شپه مې په خوب کې حضرت سیدنا ابو بکر صدیق رض ولیده. د هغوی له لارې مې ګلان راټول کړل (یعنې د هغه رض له لارښوونو مې ګټنه وکړه). (کوم صدیق اکبر؟ هغه) چې زموږ د آقا او مولا حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم له خبرې سره سم پخپله پر نبي کریم ص باندې یې د مینې او مال له مخې د امت له ټولو خلکو څخه زیات احسانونه دي. هغه صدیق اکبر رض چې په سرېو کې لومړی د ایمان راوړو له امله زموږ د سینا د غره لومړنی کلیم وو. د پیغمبر ص له مړینې وروسته د هغه د مېړاني او زړورتیا له امله د امت بې تاند پاتې شو. صدیق اکبر رض د اسلام په منونکو ، په غار کې په پناه اخیستونکو او په قبر کې د ملګرتیا تر څنګ تل د پیغمبر علیه الصلوة والسلام دوهم (د امت فرد) پاتې شوی دی. ما (اقبال) صدیق اکبر ته وویل: ((اې په عشق کې تر ټولو ځانګړیه! ستا عشق خو د عشق د دیوان سربیت (مطلع) ده (همدا ستا ذات د پیغمبر ص په عشق کې تر ټولو ړومبی ګرفتاره شو. زموږ د کار اساس خو همدا ستاسو له امله پیاوړی او مضبوط شوی دی. همدا تاسو زموږ د ناروغۍ- زموږ د وروسته والي، د امت د زوال او د شاته پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدو- درملنه وښايئ. حضرت صديق اکبر رض وفرمايل چې تاسو به تر کله د حرص او هوا غلامان ياستئ، له سوره اخلاص څخه رڼا ترلاسه کړئ!

دا د توحيد له رازونو څخه يو راز دی چې په سلهاوو سينو کې د سا په څېر ښکته پورته خوځېږي. نو ته د الله تعالی رنګ غوره کړه او په دې ډول په نړۍ کې د الهي توحيد د جمال او ښکلا عکس وګرځه.))

يعنې کله چې اسلامي امت پخپلو کې اتفاق او يو والی پيدا کړي او د رباني توحيد رنګ غوره کړي نو د الهي ښکلا او جمال انځور به وګرځي. د الله تعالی د بې نيازۍ د صفت په خپلولو او له الله تعالی پرته له هر شي څخه د بې پروا کېدو په صورت کې دا ملت سر لوړی کېدلی شي. الله تعالی د حسب او نسب له لانجو سپېڅلی دی نو اسلامي ملت د ((اسلامي تګلارې)) په خپلولو او د حسب او نسب له لانجو څخه په خلاصون د لوړتيا او عظمت څښتن کېدی شي. په خپل ځان کې د دې الهي صفتونو په پيدا کولو اسلامي ملت په ټولو قومونو او ملتونو کې يو کېدی شي. ځکه چې نه د الله تعالی کوم سيال شته او نه هم پر دې ځمکه د الله تعالی د منونکي او د هغه د احکامو پر ځای کوونکي ملت څوک سيال کېدی شي.

**په بېلا بېلو تفسيرونو کې د سوره اخلاص له څرګنداوي او تعبير سره د اقبال تفسيري ټکو ته پرتله ييزه کتنه:**

د سوره اخلاص کوم تفسير او تعبير چې اقبال کړی هغه يې د اطلاقي نظريې يعنې **applied theory** له مخې کړی دی. علماوو د توحيد په پوهولو کې د الله تعالی د ذات او صفاتو په اړه کلامي او تفسيري ټکي د روايت او درايت په رڼا کې بيان کړي دي، حال دا چې علامه اقبال رح سوره اخلاص يو اساس ګرځولی او د توحيد پر هغو اغېزو يې رڼا اچولې چې مسلمانانو ته ځواک او قوت وربښي. دا تفسير له ټولو تفاسيرو څخه ځکه مختلف، بېل او نادر دی چې په دې تفسير کې د الله تعالی په صفاتو سنبالې د هغې ټولنې د جوړښت انځورنه شوې ده چې د توحيد په رنګ کې له رنګېدو وروسته به رامنځته کېږي. ګواکې د دې تفسير په رڼا کې ټولنه په توحيد کې داسې ونغښتل شي چې د حال په ژبه وايي: ((صبغة الله ومن احسن من الله صبغة و نحن له عابدون. ژباړه: موږ د الله تعالی رنګ ومانه او دالله تعالی له رنګ څخه د چا رنګ غوره دی او موږ د همغه عبادت کوو.))

مفتي مُحَمَّد شفيع رحمه الله ليکي:

((د دين او ايمان له رنګ راوړلو څخه دې ته هم اشاره وشوه چې په څه ډول چې رنګ په سترګو ښکاري، بايد د مؤمن د ايمان نښې د هغه په ځلانده څېره او دغه راز په ټولو حرکاتو، سکناتو، معاملاتو او عادتونو کې هم ښکاره شي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پروفیسر خالد پرویز په اند اقبال مسلمانانو ته د اعلامیه لیک په وړاندې کولو هغوی ته د کار او عمل بلنه ورکړې او کومه تفسیري خاکه چې علامه صېب وړاندې کړې ده، هغه تر ننه پورې هېڅ د دین عالم، د قرآن مفسر او مفکر وړاندې نه شوی کړی.

اوس راځئ هغو تفاسیرو ته چې په بېلا بېلو وختونو کې لیکل شوي دي:

په ((تفسیر جلالین)) کې چې کوم تفسیرشوی دی هغه د تشریحي ټکو په بڼه دی:

((ژباړه: (له پیغمبر ص څخه د هغه د خدای په اړه پوښتنه وشوه نو دا سورت نازل شو) ته ورته ووایه چې هغه الله یو دی (په دې کې ((الله)) د ((هو)) لپاره خبر دی؛ او ((احد)) د ((الله)) بدل دی یا د ((هو)) خبر ثاني دی) الله بې پروا دی (دا د خبر مبتدا ده، یعنې په ټولو اړتیاوو کې تل هماغه مقصود دی) نه یې اولاد شته (د هغه د هم جنس د نشتون له امله) او نه هغه د چا اولاد دی (ځکه چې الله تعالی حادث نه دی) او نه یې هم کوم سیال شته (یعنې هېڅ څوک له هغه سره برابر او مساوي نه دي). ((له)) په ((کفوا)) پورې تړلی دی او دا چې مقصود بالنفي دی، له همدې امله ((له)) پرې مقدم شوی دی او د ((یکن)) اسم یعنې (احد) د آیاتونو واټن ته په پام سره د هغه له خبر وروسته راوړل شوی دی.))

له دې وروسته د ((تحقیق او ترکیب))، ((د آیتونو اړیکه له تېرو آیتونو سره)) او (( تشریح)) تر سرلیکونو لاندې تفصیلي خبرې شوې دي، خو د توحید او الهي صفتونو اغېزې پر اسلامي ټولنې باندې یا د مسلمان لپاره په دې ډول د الهي صفاتو د لاسته راوړلو ترغیب چې هغه د الله په رنګ کې ورنګېږي، هېچېرته نه لیدل کېږي. همدا حال د نورو تفاسیرو دی چې له هغو څخه یو څو یې لاندې راوړو:

۱- د ((تفسیر ضیاء القرآن)) په تفسیري لمنلیک کې د نړۍ په تاریخ کې د معبود د تصور په اړه ډېر زیات معلومات شتون لري. مثلاً هغه د ((احد)) په اړه لیکي:

((احد)) داسې ((یوه)) ته وایي چې دوهم یې نه وي، نه په ذات کې، نه په صفاتو کې او نه هم په کمالاتو کې. له دې اعلان وروسته له سرو، سپینو، اوسپنې، مسو، تیږو او لرګیو څخه جوړ شوي معبودان چې له پېړیو راهیسې پر خدایي ګدۍ ناست وو، پر مخې پر ځمکه را وغورځېدل.

د تفسیر لیکوال د الله تعالی د ټولو هغو صفاتو تشریح په همدې سبک کړې ده چې په سوره اخلاص کې یاد شوي دي.

۲- په ((تفسیر مظهري)) کې هم د علم لغت او صرف او نحوې د اصولو په رڼا کې د الفاظو پوهاوی او د روایاتو په رڼا کې یې شان نزول بیان شوی دی. مثلاً:

(c) ketabton.com: The Digital Library

قل هو الله احد: د ((هو)) ضمیر، مبتدا ده او راتلونکي جمله یې خبر ده. په دې صورت کې مرجع ته اړتیا نشته، یا ((هو)) ضمیر دی او د هغه رب لور ته راجع کېږي، چې پوښتونکو یې ځانګړنې پوښتلې وې. یعنې اې مُحَمَّد! وواېه چې زما د رب ځانګړنې چې تاسو یې پوښتئ نو هغه الله یو دی. ((احد)) د ((الله)) بدل یا د ((هو)) دوهم خبر دی. ((احد)) په اصل کې وحد وو. وحد او واحد دواړه یوه معنا لري. د حضرت ابن مسعود رض په قرأت کې تر ((هو الله احد)) پورې ((لواحد)) راغلی دی. د حضرت عمر رض قرأت هم همدا دی. او همداسې په روایتي اسلوب د ټول سورت تفسیر بیان شوی دی.

۳- زیات او کم همدا سبک په ((تفسیر ماجدي)) کې هم پالل شوی دی. مثلاً:

((قل هو الله احد: ته ورته وواېه چې هغه الله یو دی. د ذات او صفاتو، او د هر څه په اعتبار واحد او یو دی. نه په شمېر کې دوه دی، نه یې کوم اقنوم[1] شته، نه کوم مظهر یا جسم لري، نه یې مثل او نمونه شته. یعنې هوالواحد الاحد الذي لا نظیر له ولا وزیر له، ولا ندید ولا شبیه له ولا عدیل (ابن کثیر).)) د تفسیر کبیر لیکوال ډېر ښه فرمایلي چې: څرنګه چې د کوثر سورت د رسالت په اړه جامع او هراړخیز دی، همدغسې سوره اخلاص د توحید په باب جامع دی.

۴- د ((تفسیر اسرار التنزیل)) لیکوال امیر مُحَمَّد اکرم اعوان د سورة اخلاص تفسیري ټکي په دې ډول بیانوي:

((وواېه چې الله هغه ذات دی چې د ټولو کمالاتو جامع او له ټولو نیمګړتیاوو پاک دی، د هغه په څېر بل هېڅ څوک نشته، ټول مخلوقات ورته اړ دي، خو هغه هېچا ته هم اړ نه دی. تر دې چې هغه پر مخلوق هم نه شي قیاس کېدی چې نه له چا زېږېدلی او نه له هغه څوک زېږېدلي. هغه داسې نه دی چې له نسب څخه وجود ته راشي. نه څوک د هغه مثل دي او نه له هغه سره مشابه دي. له هغه سره په هېڅ ډول څوک په ذات او صفاتو کې نه شي شریکېدی.))

دا ټول عبارت د سوره اخلاص په تفسیر کې د ((اسرار و معارف)) تر سرلیک لاندې لیکل شوی دی. دا تفسیر هم له روایت سره سم او په روانه او اسانه ژبه لیکل شوی دی.

۵- په تفسیر حافظ صلاح الدین یوسف کې په څو جملو کې تشریح شوې ده. مثلاً:

وایي چې دا سورت د مشرکینو د هغه پوښتنې په ځواب کې نازل شوی وو چې پیغمبر ص دې د خپل خدای نسب راوښیي.

---

[1] په عیسوي دین کې د خدای هر جز (پلار ، زوی او سپېڅلی روح) اقنوم بلل کېږي. په پښتو کې د اصل او اساس په معنا هم راځي. [ژباړن]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قل هو الله احد**: ژباړه: ته ورته ووایه چې هغه الله تعالی یو دی.

**الله الصمد**: ژباړه: یعنې ټول هغه ته محتاج دي، هغه هېڅا ته هم نه دی محتاج.

**لم یلد و لم یولد**: ژباړه: یعنې نه له هغه څوک پیدا شوي او نه هغه له چا پیدا شوی دی.

**لم یکن له کفوا احد**: ژباړه: او نه د هغه کوم سیال شته، نه په ذات کې، نه صفاتو کې او نه په افعالو کې. (لیس کمثله شئ.... الشوری:۱۱)

۶- شاه ولی الله رحمة الله هم دا سورت ژباړلی دی:

"بگو خدا یگانه است (۱) خدا بی نیاز است (۲) نه زاده ونه زاده شده (۳) و نیست هیچ کس او اورا همانند (۴).

۷- د احمد رضا خان برېلوي له ژباړې سره د مولانا سید محمّد نعیم الدین مراد آبادي تفسیري لمنلیک په دې ډول دی:

**ژباړه**: ته ورته ووایه، هغه الله دی، هغه یو دی.

**تفسیر**: په ربوبیت او الوهیت کې په لوړو صفاتو او کمالاتو ستایل شوی دی. له مثل و نظیر او شبیه څخه پاک دی، هغه لره هېڅ شریک نشته.

**ژباړه**: الله بې نیازه دی.

**تفسیر**: له هر شي څنې، نه خوري، نه څښي، تل وو، تل به وي.

**ژباړه**: هغه لره اولاد نشته دی.

**تفسیر**: ځکه چې همجنس یې نشته.

**ژباړه**: او نه هغه له چا زېږېدلی دی.

**تفسیر**: ځکه چې هغه قدیم دی او پیدا کېدل د حادث ځانګړنه ده.

**ژباړه**: او نه یې سیال شته.

**تفسیر**: یعنې هېڅوک هم د هغه سیال نه شي کېدی او د هغه په څېر څوک نشته دی. د دې سورت په څو آیاتونو کې د علم الهیات غوره او اعلی مطالب بیان شول چې په تفصیل یې لسګونو کتابخونې ډکېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- په تفهیم القرآن کې مولانا ابو الاعلی مودودي لیکلي: کوم شخص چې په دې سورت ځان پوه کړي او پر لاربښوونو يې ايمان راوړي، هغه به له شرک څخه خلاص شي.

**ژباړه**: ووایه، هغه الله دی، یو. الله له ټولو بې پروا دی او ټول هغه ته محتاج دي. نه هغه کوم اولاد لري او نه هغه د چا اولاد دی. او هېڅ همغاړی يې نشته.

په تفهیم کې هم په نحوي سبک د کلمو د معناوو ټاکنه شوې ده. نوموړی عالم فرمايي: د نحوي قواعدو له مخې علماوو د ((هو الله احد)) ګڼ شمېر ترکیبونه ښودلي دي، خو زموږ په نزد کوم ترکیب چې له دې ځای سره بشپړ سمون خوري، هغه دا دی چې: ((هو)) مبتدا دی، ((الله)) يې خبر دی او ((احد)) يې دوهم خبر دی. د دې ترکیب په اساس د دې جملې معنا دا ده چې: هغه- چې په اړه يې تاسو پوښتنه کوئ- الله دی، یو دی. دوهم مطلب يې دا هم کېدای شي او د ژبې له مخې ناسم هم نه دی چې: الله یو دی. ټول تفسیر په همدې سبک بیان شوی دی.

**د علامه اقبال د فکر ندرت ته کتنه**:

اوس که دا تفاسیر د علامه اقبال د تفسیر له سبک سره پرتله کړو، نو دا خبره په اثبات رسېږي چې د علامه صېب طرز له ټولو بېل، له ټولو جلا او ځانګړی دی. په دې چې علامه اقبال د سوره اخلاص د تفسیر د لیکلو پر ځای، پر ټولنه باندې د دې سورت اغېز په بشپړ ډول درک کړی دی. څرنګه چې يې مخکې یادونه وشوه، علامه صېب په خوب کې د حضرت سیدنا صدیق اکبر رض زیارت کړی وو او هغه ته يې د خپل ملت د وروسته والي او زوال د له منځه وړلو لپاره عرض کړی وو چې ستاسو په لاسونو زموږ (یعنې د امت) اساس پیاوړی شوی وو ځکه نو زموږ د ناروغۍ درملنه هم تاسې راوښیئ.

بیا په دې خوب کې حضرت سیدنا صدیق اکبر رض په کلکه د اخلاص په سورې د منګولو لګولو مشوره ورکړه او ويې فرمايل چې:

((ته ( او ستا قوم) به تر څو په حرص او هوس کې اخته یاست، په سورة اخلاص پورې مو زړه وتړئ!))

کله چې علامه اقبال رحمه الله پاڅېد او د خوب په رڼا کې يې چې کوم ټکي بیان کړل د هغو لنډیز هم لولو:

((د الله تعالی د رنګ په غوره کولو، د اسلامي ټولنې وګړي او په ټولنیزه توګه غوټه ټولنه به د الهي ښکلا عکس وګرځي او د توحید د یوې بېلګې د وړاندې کولو وړ به وګرځي. په دې ټولنه کې به د یو شانته والي له امله عملي یو والی ولیدل شي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

((که د الله تعالی د صفت ((الصمد)) رنګ در باندې خپور شي نو ملت به هېڅ بل ځواک ته اړتیا احساس نه کړي. بلکې له الله تعالی پرته به له هر ښکاره ځواک او قوت او ګټې او تاوان څخه بې پروا شي.))

((کله چې د ((لم یلد و لم یولد)) په مفهوم باندې پوه شي او اسلامي ملت له نسلي، ملي او قبیلوي عصبیتونو څخه بې پروا شي، نو واحد ملت به ترې جوړ شي. د ده هره اړیکه به د ملي یو والي د احساس او د توحید د نظریې په تناظر باندې ولاړه وي.))

((ولم یکن له کفوا احد)): او کله چې له دې اوصافو سره اسلامي ملت په دې نړۍ کې را څرګند شي، نو په ټوله محسوسه نړۍ کې به یې هېڅ سیال او برابر نه وي.))

زموږ په دې بحث کې، د ((رموز بیخودي)) د اړونده څپرکي د لاندنیو مسرو مفهوم راغلی دی:

**رنګ او برکـــــن مثال او شوی** — **در جهان عکس جمال او شوی**

**انکه نام تو مسلـمان کرده است** — **از دوئی سوی یـکی اورده است**

**یک شو و توحید را مـشهود کن** — **غائبش را از عـمل موجـود کن**

**گر به "الله الصمد" دل بسته ای** — **از حد اسباب بیرون جـسته ای**

**فارغ از باب و ام و اعمـام باش** — **همچو سلمان زادهء اسلام باش**

**رشته ای با "لم یـکن" باید قوی** — **تا تو در اقوام بـی هـمتا شوی**

زما په اند د ټولې مثنوي لنډیز په همدې بیتونو کې راغلی دی. کله چې د علامه اقبال دا تفسیر د علماء کرامو له نورو تفسیري هڅو سره پرتله کوو نو داسې ښکاري چې د معانیو وسعت، د مفاهیمو پراخوالی او پر ټولنیزه سطحه د الله تعالی د توحید د عملي بڼې د څرګنداوي په پار د عملي تګلارې د وړاندې کولو لپاره د اسلامي مفسرینو په تاریخ کې الله رب العزت یوازې علامه اقبال غوره کړی وو. په ښه وخت کې د غالب دا شعر را په زړه شو:

جز قیس اور کوئی نه آیا بروے کار
صحرا مګر به تنګی چشم حسود تها

ژباړه: دا ویاړ له قیس پرته د هېچا هم په برخه نه شو، که نه دښتې خو د حاسد د سترګو په څېر تنګسیا لرله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قرآن پوهنې دا يوازينی، بېل او ځانګړی اسلوب به ولې نه راټوکېده، په داسې حال کې چې د اقبال د زرخېزه ذهن په ځمکه کې له پيله د همدې حقيقت تخم کرل شوی وو چې قرآن داسې ولوله لکه پر تا چې نازلېږي. اقبال رحمه الله فرمايي:

((يو سهار له عادت سره سم تلاوت مې کاوه چې پلار مې څنګ ته راغی او ويې فرمايل: زويه، غوښتل مې ووايم چې کله قرآن لولې نو داسې يې ولوله لکه قرآن چې همدا پر تا نازلېږي، يعنې الله تعالی پخپله له تاسره خبرې کوي. (اقبال اور قرآن – ډاکټر غلام مصطفی خان)

د همدې فکرونو اغېز غالباً د اقبال پردې شعر هم دی:

ترے ضمير په جب تک نه هو نزول کتاب
گره کشا هے نه رازی نه صـــاحب کشاف

ژباړه: تر څو دې چې دا کتاب (قرآن) پر زړه او وجدان را نازل نه شي، تر هغو د دې کتاب رموز او اسرار د امام رازي او زمخشري په څېر ستر ستر مفسرين او علماء هم نه شي را برسېره کوی او تا پرې نه شي پوهوی.

درېغه، اسلامي امت په عامه توګه او پاکستاني قوم په خاصه توګه، د اقبال د افکارو په رڼا کې د توحيد په مفاهيمو پوه شي او د صبغت الله ښېلګه وړاندې کړی شي!

****

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قل هوالله احد

(ووایه چې هغه الله یوازې او بې جوړې دی.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| من شبی صدیق را دیدم بخواب | گل ز خـاک راه او چیدم بخواب |
| ان "امن الناس" بر مـولای ما | ان کلـــــیم اول سینای ما |
| همت او کشت ملت را چو ابـر | ثانـی اسلام و غـار و بدر و قبر |
| گفتمش ای خاصه خاصان عشق | عـشق تو سر مطلع دیوان عشق |
| پخته از دست اسـاس کار ما | چاره یــــی فرما پی ازار ما |

**ژباړه او تشریح**: یوه شپه مې په خوب کې حضرت ابو بکر صدیق رض ولید – او په خوب کې مې د هغه له لارې ګلان راټول کړل. هغه ابو بکر رض چې احسانات یې زموږ پر اقا او مولا له ټولو انسانانو زیات دي. هغه ابوبکر رض چې زموږ د طور د غره لومړنی کلیم وو. د لومړنۍ مسرې اړوند په حدیث کې راځي چې په ملګرتیا او مال کې د حضرت ابو بکر رض احسانات تر بل هر چا زیات دي. یعني هغه له هر چا زیات د ملګرتیا حق پر ځای کړی او همغه د حق پیغام په رسولو کې له بل هر چا زیات مال لګولی. په امن الناس کې اشاره دې حدیث ته ده چې رسول الله ص وفرمایل:

((ان من امن الناس علی فی صحبته و ماله ابو بکر(بخاري).))

ژباړه: په خلکو کې پر ما د ملګرتیا او مال اړوند تر هر چا زیات احسانونه ابو بکر رض کړي دي.

د دوهمې مسرې معنا دا ده چې هغه لومړنی مسلمان وو، که د رسول الله ص برکتمن ذات د طور غر فرض کړو نو دې طور ته له ټولو نه مخکې چې ور ورسېد هغه حضرت ابو بکر رض وو. په حدیث کې د اسلام لپاره د درې اشخاصو لومړیتوب ښکاره دی. په ښځو کې حضرت خدیجه رض، په هلکانو کې حضرت علي رض چې د اسلام د منلو پر مهال اته کلن وو او په سړیو کې حضرت ابوبکر صدیق رض. دلته یو بل اړخ هم د پام وړ دی، حضرت خدیجه رض د رسول الله ص حرم وه، حضرت علي رض پخپله د رسول الله ص تر سیوري لاندې روزنه ترلاسه کړې وه. په بشپړ دول ازاد او خپلواک یوازې حضرت ابو بکر رض وو. د حضرت ابو بکر رض مېړانه او د هغه قربانۍ د قومي بنې لپاره د رحمت د وربځې حیثیت درلود. هغه په اسلام، غار، غزوه بدر او قبر کې دوهم وو. په دوهمه مسره کې د حضرت ابوبکر صدیق رض د ژوند د ټولو مهمو تاریخي پېښو په ترتیب سره راوړل په رښتیا هم چې یو کرامت دی. اصل مضمون د حضرت سعید بن مسیب په یوه قول کې راغلی دی. د سعید بن مسیب قول دا وو:

((کان ابو بکر الصدیق من النبی ص مکان الوزیر فکان یشاوره في جمع اموره وکان ثانیة فی الاسلام و کان ثانیة فی الغار وکان ثانیة فی العریش یوم بدر و کان ثانیة فی القبر و لم یکن رسول الله ص یقدم علیه احدا.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: له حضرت سعید بن المسیب رض څخه روایت دی چې حضرت ابو بکر صدیق رض د نبي کریم ص لپاره د یوه وزیر حیثیت درلود او نبي کریم ص به په خپلو ټولو امورو کې له هغه سره مشوره کوله. حضرت ابو بکر صدیق رض په اسلام راوړو کې د نبي کریم ص ثاني (دوهم) وو، په غار (ثور) کې د پیغمبر ص سره دوهم وو، په غزوه بدر کې په عریش(هغه خېمه چې د پیغمبر ص لپاره جوړه شوې وه) کې هم د پیغمبر ص ترڅنګ دوهم وو، په قبر کې هم د پیغمبر ص سره دوهم او رسول الله پر هغه باندې هېچا ته هم لوړاوی نه ورکاوه.))

(حاکم، المستدرک، ۳:۶۶، رقم: ۴۴۰۸.)

ورته ومې ویل: اې د ربښتینې مینې خاونده! ستا مینه د حق مینې د دیوان سر بیت (مطلع) ده. زموږ د معاملاتو بنسټ ستاسو په لاسونو پیاوړی دی. ځکه چې د اسلام لپاره د پیغمبر ص له مړینې وروسته لومړنی له ستونزو ډک دور هغه وو چې ببلا بېلي ډلي سرکښۍ او سرغړاندۍ ته چمتو شوې. په هغو کې ډېری یې مرتد شوي وو، ځینو یې د نبوت دعوا کړې وه او ځینو د زکات له ورکړې نټه کړې وه. حالات ډېر د اندېښنې وړ وو، خو حضرت ابو بکر صدیق رض د یوې شېبې لپاره هم لړزانده نه شو او د شپړ میاشتو په ترڅ کې یې ټول مخالفتونه له منځه یو وړل او د اسلامي ملت بنسټونه یې په پښو ودرول. ورته ومې ویل چې څرنګه چې تاسو زموږ بنیاد را نېغ کړ، په همدې ډول زموږ د ناروغۍ لپاره چې موږ یې ډېر سخت اندېښمن کړي یو، کومه درملنه وړاندیز کړئ.

| | |
|---|---|
| **گفت تا کی در هوس گردی اسیر** | **اب و تــاب از سورة اخلاص گیر** |
| **اینکه در صد سینه پیچد یک نفس** | **سری از اسرار توحید است و بس** |
| **رنــــــگ او برکن مثال او شوی** | **در جــهان عکس جمال او شوی** |
| **انــکه نام تو مسلمان کرده است** | **از دویــی سوی یکی اورده است** |

**ژباړه او تشریح**: حضرت ابوبکر رض وفرمایل: تر څو پورې به ته د حرص او هوس مریې یې؟ له سورة اخلاص څخه رڼا او ځلا ترلاسه کړه. وګوره، په سلګونو سینو کې یوه ساه روانه ده. دا هم د توحید له اسرارو یو راز دی. ته هم د همغه (خدای) رنګ غوره کړه نو د هغه په څېر به شې او په دنیا کې به د هغه د ښکلا او جمال عکس وګرځې چې پر تا یې مسلمان نوم ایښی دی. هغه ته له کثرت څخه د وحدت په خوا راوستی یې (مسلمان نوم الله ټاکلی دی. په قرآن کریم کې فرمایي: ((وهو سمکم المسلمین.)) فرمایي چې د مسلمان نوم ایښودو موخه همدا وه چې ټول یو شئ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خویشتن را ترک و افغان خوانده ئی** **وای بـــــر تو انچه بودی مانده ئی**
**وارهان نامیـــــــــده را از نامها** **ساز با خـم در گـــــذر از جامها**
**ای که تو رسوای نـــام افـــتاده ئی** **از درخـــــت خویش جام افتاده ئی**
**با یکی ساز او دوئـــی بردار رخت** **وحدت خود را مگر دان لخت لخت**
**ای پرستار یکـــــــی گـر تو توئی** **تا کـــــجا باشی سبق خوان دوئی**

**ژباړه او تشریح**: خو ته خپل ځان ترک، افغان او خدای خبر چې نور څه څه بولې. افسوس دی پر تا، ته چې پخوا څه وې هغه اوس نه یې.

همدا مضمون علامه صېب په ((جواب شکوه)) کې په دې ډول بیان کړی:

یوں تو سید بھی هو، مرزا بھی هو، افغان بھی هو تم
تم سبھی کچھ هـــــو، بتاؤ تو مســـــلمان بھی هو ؟

ژباړه:

هسې خو سیـــد هم، مرزا هم او افغان هم یې
ته هر څه یې، خو ووایه چې مسلمان هم یې ؟

[جواب شکوه]

قوم دې له دې نومونو وژغوره. له منګي سره اړیکې کلکې کړئ، له کټوري او پیالې څخه لرې شئ. (منګی ملت دی، چې یو دی. د جغرافیایي قومونو په اساس د بېل بېل نوم ایښودو له امله تفرقه پیدا شوې. د هغو حیثیت د کټوري او پیالې په څېر دی. هغوی له منځه یوسئ تر څو په ملت کې یو والی رامنځته شي). تاسو په نومونو پسې نښتي یاستئ چې (د رسوایۍ او بدنامۍ بنسټ دی) ګواکې تاسو له خپلې ونې څخه د خامې مېوې په څېر را لوېدلي یاستئ. له یو والي سره ځان اشنا کړئ او له شرک او دوه والي سره مو اړیکه وشلوئ، خپل یو والی مه ټوټه ټوټه کوئ. (ښکاره ده چې د اسلامي ملت پر ځای د ترکي، افغاني او عربي ملت کېدو معنا همدا ده چې یو والی له منځه لاړ شي.) اې د وحدت لمانځونکیه! که ته په حقیقت کې پخپله ته یې، نو تر څو به د شرک او دوه والي درسونه لولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تو در خود را بخود پوشیــده ئی — در دل اور انچه بر لب چیده ئی**
**صد ملل از ملـــتی انگــیختی — بر حــصار خود شبیخون ریختی**
**یک شو و توحید را مشهـود کن — غائبـش را از عــمل موجود کن**
**لـــــذت ایمان فزاید در عمل — مرده ان ایمان که ناید در عمل**

**ژباړه او تشريح**: تا پخپله په ځان پسې خپله دروازه بنده کړې، څه چې په ژبه وايې، هغه زړه ته هم کوز کړه او له زړه يې ومنه. (که دې پر ژبه د توحيد کلمه ده نو دا کلمه زړه ته هم ور دننه کړه او پر حقيقت يې ځان پوه کړه.). تا له يوه ملته سل ملتونه جوړ کړل ګواکې تا پخپلې کلا پخپله يرغل وکړ.

د علامه اقبال په وينا:

فرقه بندی هے کهیں اور کهیں ذاتیں هیں
کیا زمانے میں پنپنے کی یهی باتـیں هیں

ژباړه: چېرته ډلبندۍ دي او چېرته ذاتونه اساس ګرځېدلي، آيا نړۍ کې د پرمختګ او ژوندي پاتې کېدا لاره او اساس همدا دی.

تاسو يو شئ او د توحيد عملي بېلګه نړۍ ته وړاندې کړئ، لکه څرنګه چې د خدای ذات يو دی همداسې د هغه منونکي هم يو دي. د توحيد په کلمې کې چې کوم مفهوم نغښتی، د خپل عمل په وسيله هغه موجود کړئ. د عمل په وسيله د ايمان په خوند کې زياتوالی راځي. هغه ايمان له منځه ځي چې عمل پرې ونه شي. لکه څرنګه چې په قرآن پاک کې الله تعالی فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آَمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لاَ تَفْعَلُونَ 2 كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لاَ تَفْعَلُونَ ٣)) (الصف)

ژباړه: اې مؤمنانو! ولې هغه څه واياست چې کوئ يې نه ؟ (2) د الله په وړاندې دا ډېره بده خبره ده چې تاسې هغه څه واياست چې نه يې کوئ (3)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الله الصمد

(الله بې پروا دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

گر به الله الصمد دل بسته ئی | از حد اسباب بیـــــرون جسته ئی
بنده حق بنده اسبــــاب نیست | زندگانی گردش دولاب نــــــیست
مسلم استی بی نیاز از غیر شو | اهـــــل عالم را ســــــراپا خیر شو
پیش منعم شکوه گردون مکن | دست خویش از استین بیرون مکن
چون علی در ساز بانان شعیر | گــردن مرحب شکن خیـــــبر بگیر

**ژباړه او تشریح**: که تا خپل زړه په بې پروا خدای پورې تړلی دی، نو پوه شه چې د اسبابو له دایرې څخه راوتلی یې. ځکه چې د خدای بنده د اسبابو بنده نه شي کېدی. د علامه صېب په قول:

کافر ہے تو شمشیر په کرتا ہے بھروسه
مؤمن ہـــــے تو بے تـیغ لڑتا ہے سپاهی

ژباړه:

کافر کـــــوي باور په تــوره باندې
مؤمن لګیا بې تورې جګړه کاندې

او ژوند د مېچني خرخ نه دی. په دې معنا چې ژوند د مېچني د تاوېدو غوندې په یو ځای نه څرخېږي بلکې پرلپسې پرمختګ او ارتقا کوي او د مؤمن هم هره ورځ له تېرې ورځې څخه ښه وي. که ته مسلمان یې نو پرته له خدایه له هر شي نه بې پروا شه او د نړۍ لپاره د خیر او برکت سرچینه وګرځه، د شتمن په وړاندې له ژونده ګیلې مه کوه او په دې ډول د ځان لپاره د سوال دروازه مه پرانیزه بلکې خپل لاس له لستوني هېڅ مه راباسه (له چا نه څه مه غواړه). څرنګه چې د علامه اقبال اردو شعر دی:

هوس نے کردیا ٹکڑے ٹکڑے نوع انسان کو
محبت کی زبان هو جا اخوت کا بیان هو جا

ژباړه:

هوس ټوټې ټوټې کړه ټوله نوعه د انسان
ژبه د محبت شه او شــــه د ورورۍ بیان

د حضرت علي رض په څېر د اوربشو ډوډۍ خپل شعار وګرځوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جسے نان جویں بخشی ہے تو نے
اسے بـــازؤ حیـــدر بھی عطا کر

ژباړه:

چاته دې ډوډۍ وه د اوربشو چې ورکړي
ورکړه اوس هغه ته د حيدر په شانته مټي

[اقبال رح]

او د مرحب په څېر د پياوړي سردار ورمېږ ور مات کړه او د خيبر په څېر په سخت ځای ولکه وکړه. يعنې له نورو د کومک د تمې پر ځای خپل نفس قابو کړه او له حالاتو سره مقابله وکړه.

**منت از اهـــــل کرم بـــردن چرا — نـشتر لا و نـــــــعم خوردن چرا**
**رزق خود را از کف دونان مـــــگیر — یوسف استی خــــویش را ارزان مگیر**
**گر چی باشی مور و هم بی بـــال و پر — حاجـــــــتی پیش سلـــیمانی مبر**
**راه دشوار است سامان کــــم بگیر — در جهـــــــان ازاد زی ازاد میر**

**ژباړه او تشريح**: د کرم د خاوندانو احسان خله په غاړه واخيستل شي؟ د هغوی له لاسونو د ((هو)) يا ((نه)) نېزه ولې وخوړل شي؟ ((هو)) او ((نه)) دواړه د نېزې په څېر دي، چې د سوالگر زړه پرې ټپي کېږي. که يې سوال ومانه نو پر سوالگر د ورکوونکي احسان باندې شو او د سوالگر ((زه ولی)) ته زيان ورسېد. که سوال يې ونه مانه نو معنا يې دا چې زه ولی ته د زيان له رسېدو سربېره اړتيا هم پوره نه شوه. نو دا هم يو ډول ټپ او زخم شو. عرفي هم د يوې نعتيه قصيدې په تغزل (تشبيب) کې همدا مضمون راوړی. نوموړی وايي:

اقبال کرم می گزد ارباب همم را
هـمت نخود نیشتر لا و نعم را

د سوال او خيرات منل د مېړنيو لپاره د تکليف او کړاو سبب دی. د هغه مېړانه دی نه پرېږدي چې د جود او کرم له خاوند څخه د لا (نه) او نعم (هو) نېزې وخوري. ته خپل رزق د بې ارزښته خلکو له لاسو مه اخله. ته يوسف يې، ستا بيه ډېره لوړه ده، ته بايد خپل ځان دومره ارزانه نه کړې. که ستا حيثيت يوه بې وزره او بې وښتو مېږي ته ورته هم وي، بيا هم له تاسره نه ښايي چې خپله اړتيا سليمان عليه السلام ته وړاندې کړې. دا مضمون اقبال په ((خضر راه)) کې هم وړاندې کړی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مومیائی کی گدائی سے تو بہتر ہے شکست
مور بی پر! حـــاجتی پیش سلیمانی مبر

ژباړه:

د موملايې له سوالګرۍ خـــو ده بهتره ناکـامي
مه وړه خپل حاجت دې سليمان ته هم، مېږيه!

د ژوند لاره پېچلې ده، له ځان سره کمه توښه واخله، په دنيا کې خپلواک ژوند وکړه او خپلواک ومره.

**سبحه "اقلل من الدنيا" شمـــار**
**از "تعش حرا" شوی سرمایه دار**
**تا توانی کیمیا شو گل مـــشو**
**در جهان منعم و سائـــل مشو**
**ای شناســـای مقـام بو علی**
**جرعه ئی ارم ز جـــام بو علی**
**پشت پا زن تخت کیـکاوس را**
**سر بده از کف مـده ناموس را**
**خود بخود گردد در میخانه باز**
**برتهی پیــــــمانـگان بی نیاز**

**ژباړه او تشريح**: د حضرت فاروق اعظم رض دا څومره ښه وينا ده: خپلې دنياوې اړتياوې کمې کړه او خپلواک ژوند وکړه. ته همدا وينا خپله د ژوند لارښود وګرځوه: ((اقلل من الدنيا تعش حرا)). دا قول حضرت عمر فاورق رض ته منسوب دی. د دې معنا دا ده چې دنياوې اړتياوې کمې کړه او ازاد ژوند تېر کړه، ښکاره ده څومره چې انساني اړتياوې زياتې وي، هماغومره ورته هلې ځلې زياتې په کار وي او کله چې په منډو تړرو دا اړتياوې پوره نه شي نو بيا انسان د نورو مهربانۍ او پېرزوينې ته اړ وي او په دې ډول يې ازادي له لاسه ووځي. له دنيا څخه هماغه بې پروا اوسېدی شي چې اړتياوې يې لږې وي. تر کومه حده چې امکان لري خاوره کېږه مه، کيميا شه. ته بايد د نعمتونو څښتن اوسې، ترڅو نورو ته خيرات ورکړې، نه بايد چې سوالګر او خيرات غوښتونکی اوسې. ته د حضرت بو علی قلندر رحمه الله مقام او مرتبه پېژنې، زه د هغوی د ويناوو له جام څخه يو غړپ په تا څښم. هغه فرمايي: د کيکاووس [1] تخت ته لغته ورکړه، سر ورکړه خو عزت له لاسه مه ورکوه. دا الهي سنت هره شېبه د سترګو په وړاندې ساته، د کومو خلکو کټورې چې له شرابه تش وي، که هغه د الله تعالی د بې پروايې صفت په خپل ځان کې پيدا کړي نو هغو لره به د شراب خونو او ميکدو دروازې پخپله پرانيستل شي.

[1] کيکاؤس: د ايران لرغونی پاچا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قاید اسلامیان هـــــارون رشید**     **انکه نقفور اب تیــــغ او چشید**

**گفت مالکرح را که ای مولای قوم**     **روشن از خاک درت سیمای قوم**

**ای نوا پرداز گلزار حــــدیث**     **از تو خواهم درس اسرار حدیث**

**لعل تا کی پرده بند انـــدر یمن**     **خیز و در دالخـــلافت خیمه زن**

**ای خوشا تابانی روز عـــــراق**     **ای خوشا حسن نظر ســوز عراق**

**میچکد اب خضر از تـــــاک او**     **مرهم زخم مسیحا خــــاک او**

**ژباړه او تشریح**: دا بیت د مسلمانانو د خلیفه هارون الرشید کیسه کوي. هماغه هارون الرشید چې د توري د وار خوند یې نقفور هم وڅکه. نقفور د ختیځ روم سلطنت پاچا وو. په پیل کې د آیرین ملکې په دربار کې د مالیې وزیر وو. بیا یې درباریان له ځان سره کړل او پر تخت کېناست. آیرین ملکې به هارون الرشید ته خراج ورکاوه. کله چې نقفور پر تخت کېناست نو هارون الرشید ته یې ولیکل: ((اوس ښځه د تاج او تخت څښتنه نه ده، چې تا ته به خراج درکوي، زه شهنشاه یم او ته به ماته خراج راکوې.)) د همدې له بې ادبۍ ډک لیک په ځواب کې هارون الرشید هغه نادر لیک ولیکه چې لومړۍ کرښه یې دا وه: ((د خلیفه هارون الرشید له خوا د رومي سپي په نوم.)) بیا یې خپل پوځ له ځانه سره کړ او د بریښنا په څېر یې پر نقفور یرغل وکړ او تر څو یې چې پخپلو سرغړونو پښېماني ونه ښوده او تول خراج یې ورنه کړ، تر هغې یې پرې نه ښود. هارون الرشید امام مالک رح [1] ته وویل چې اې د قوم مشره! ستاسې د دروازې له خاورې د قوم تندی روښانه دی. تاسې د حدیث د ګلبڼ بلبل یاستئ، زه هم غواړم چې له تاسې د حدیثو اسرار زده کړم. لعل به تر کله پورې په یمن کې په پردو کې پټ وي ؟ راشئ، په دارالخلافت کې استوګنه وکړئ. (امام مالک رح به په مسجد النبوي (مدینه منوره) کې د حدیثو درس ورکاوه. هاورن الرشید هغه بغداد ته راوغوښته.) په عراق کې ورځې ډېرې روښانه وي او د دې ځای ښکلا سترګې سوځوي. د دې ځای له انګورو د خضر اوبه (د حیات اوبه) څڅېږي او خاوره یې د مسیحا د ټپونو مرهم ده.

**گفت مالـک مصطفی را چـــا کرم**     **نیست جز سودای او اندر سرم**

**من که باشم بسته فــــــتراک او**     **بر نخــیزم از حـــــریم پاک او**

**زنــــــده از تقبـــیل خاک یثربم**     **خوشتر از روز عــراق امد شبم**

---

[1] مالک بن انس بن مالک بن عمر (۹۳ — ۱۹۷ هـ) د اهل سنت له څلورو فقهي مذاهبو څخه د یوه امام دی. مؤطا امام مالک د نوموړي مشهور کتاب دی. په مدینه منوره کې به یې د حدیثو تدریس کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عشق می گوید کـــه فرمانم پذیر پادشاهان را بخـدمت هم مگیر**

**تو همی خواهـــی مرا اقا شوی بنده ازاد را مـــــولا شوی**

**ژباړه او تشريح**: امام مالک رح ځواب ورکړ چې: زه د رسول الله ص نوکر يم. د پيغمبر ع له عشق پرته زما په سر کې د بل هېچا ځای هم نشته. زه خو د پيغمبر ع په مينه کې تړل شوی يم او له دې پاک حرم څخه هېچېرته نه شم تلی. د يثرب د خاورې ښکلول زما ژوند دی او زما شپه د عراق له ورځو ډېره روښانه او خوندوره ده. ربښتينی عشق ماته امر کوي چې زما امر ومنه او پاچاهان هم د ځان د خدمت لپاره مه نيسه. ته غواړې چې زما بادار شې او د يوه خپلواک انسان مولا وګڼل شې.

**بهر تعليم تو ايــــــم بر درت خادم ملت نگــــــردد چاكرت**

**بهره ئی خواهی اگــــر از علم دين در ميان حـــــلقه درسم نشين**

**بی نيازی ناز هـــــا دارد بسی ناز او اندازهــــا دارد بسی**

**بی نيازی رنگ حق پوشيدن است رنگ غير از پيرهن شوئيدن است**

**ژباړه او تشريح**: زه د تدريس لپاره ستا دروازې ته راشم؟ د قوم خادم ستا نوکر نه شي کېدی. که ته د دين څه علم لاسته راوړل غواړې نو زما د درس حلقې ته راشه او پکې کېنه. په بې نيازۍ کې هم ډېر نازونه شته او د هغو نازونه هم بلها اندازونه لري. د بې نيازۍ معنا دا ده چې مسلمان د حق رنګ غوره کړي او د غيرالله رنګ له خپلو جامو څخه ووينځي.

**علم غير اموخـــــــتی اندوختی روی خويـــش از غازه اش افروختی**

**ارجـــــــمندی از شعارش ميبری مــــــن نــدانم تو توئی يا ديگری**

**از نسيمش خـــاک تو خاموش گشت و ز گل و ريحـــان تهی اغوش گشت**

**كشت خود از دست خود ويران مكن از ســـــــحابش گديه باران مكن**

**عقــــــل تو زنجيری افـــكار غير در گلوی تو نـــــــفس از تار غير**

**بر زبانت گفتـــــــــگوها مستعار در دل تو ارزوها مســـــــــتعار**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه او تشریح**: (اې مسلمانه) تا د پردیو علم زده او هماغه دې زبرمه کړ. د هماغه په غازې دې خپله ځېره ځلولې[1]. ته د پردیو دودونه او طریقې د عزت لامل ګڼې! زه نه پوهېږم چې ته، ته یې او که کوم بل څوک یې، یعنې ستا حقیقي څېره د پردیو په تمثیل کې ورکه شوې ده او ته یقیناً چې ((ته)) نه یې پاتې. [2] د پردیو د نسیم بادونو ستا خاوره وچه او له ګلونو او بوټو څخه ستا غېږه تشه کړې. هلته به ګلاب او ریحان را زرغونېدل. ستا خاوره اوس له هغو ځنې بې برخې شوې ده. ته خپله کرونده په خپلو لاسونو مه ویجاړوه او د پردیو له ورېځو باران مه غواړه. ستا عقل د پردیو افکارو په قید کې بند دی. ستا په ستوني کې چې کومه ساه ده هغه هم پردۍ ده. زما د ژبې خبرې اترې او ستا د زړه ارزوګانې ټولې مستعارې دي، یعنې په دې ټولو کې هېڅ شی هم داسې نشته چې ستا خپل وي.

| | |
|---|---|
| **قمریانت را نواهـــــــا خواسته** | **سروهایت راقبـــــاها خواسته** |
| **باده می گـــــیری بجام از دیگران** | **جام هم گیری بـــوام از دیـگران** |
| **ان نگاهــــــــش سر "ما زاغ البصر"** | **سوی قوم خویـــش باز اید اگر** |
| **مــــی شناســـد شمع او پروانه را** | **نیک داند خویـش و هم بیگانه را** |
| **"لست منی" گویــــــدت مولای ما** | **وای ما، ای وای ما، ای وای ما** |

**ژباړه او تشریح**: ستا د کوترو نغمې هم د سوال دي او ستا پر تن دا خرقې هم له نورو غوښتل شوې دي. حد یې دا دی چې ته د خپلې پیالې شراب نه، بلکې پیاله هم له نورو په قرض اخلې. هغه پاک ذات، چې د دید په اړه یې د قرآن کریم ارشاد دی: ((مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَى 17)). ژباړه: (دهغه) سترګو نه کوږوالی وکړ او نه له حده تېری.(سوره نجم). که هغه خپل قوم ته بېرته را وګرځي، هغه چې شمع یې خپل پتنګان پېژني، پوهېږي

---

[1] د امام مالک د زه ولۍ او بې نیازي د بېلګي له راوړلو وروسته اوس د اوسني وخت د مسلمان حالت بیانېږي، چې خپله بې نیازي یې له لاسه ورکړې ده او د پردیو افکار او نظریات یې خپل کړي دي. د هغو محکوم دی او پر همدې محکومۍ بیا ویاړ هم کوي.

2 ځنګه چې علامه اقبال د یوه شعر مسره ده:

تو جھکا جب غیر کے آگے

نه مـــــن تیرا نه تن تیرا

ژباړه:

چې سر دې ټیـــټ کړ د نورو په وړاندې کله

نه خپل ځان ، نه دې خپل روح شو پاتې هله

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه به ستاسې په څېر مسلمانانو ته څه وايي؟: ته له موږ څخه نه يې، تاسې له ما سره هېڅ اړيکه او تړاو نه لرئ. کله چې دا واورو نو له دې پرته به نور څه وايو چې افسوس پر موږ، افسوس پر موږ.

**زندگانی مثل انجم تا کـــــجا** — **هستــــی خود در سحر گم تا کجا**
**ریوی از صبح دروغی خورده ئی** — **رخت از پهنــای گردون برده ئی**
**افـــتاب استی یکی در خود نگر** — **از نـــــجوم دیگـران تابی مخر**
**بر دل خـــود نقش غیر انداختی** — **خـــاک بردی کیـــمیا در باختی**
**تا کـــجا رخشی ز تاب دیـــگران** — **سر سبـــــک ساز از شراب دیگران**

**ژباړه او تشريح**: تر کله به د ستورو په څېر ژوند تېروې؟ تر څو به دې ځان د سهار په رڼاوو کې ورک کړی وي؟ تا له کاذب سهار نه دوکه خوړلې او خپل ځان دې له منځه وړی. خپل حقيقت ته وګوره، ته پخپله لمر يې، ولې بيا له نورو ستورو رڼا اخلې؟ تا په خپل زړه د پرديو نقش ويستلی دی. افسوس، چې د خاورې په بدل کې دې کيميا له لاسه ورکړې. ته به تر څو پورې د نورو په ځلا روښانه يې؟ خپل سر له شرابو سپک کړه، يعنې د نورو په شرابو خپل سر مه درنوه او مه نشه کېږه. يعنې غير اسلامي نظريات پرېږده او خپله ((زه ولي)) راخپله کړه.

**تا کجا طوف چراغ مـــــــحفلی** — **ز اتـــش خود سوز اگر داری دلی**
**چون نظر در پرده های خویش باش** — **می پر و اما بـــــجای خویش باش**
**در جهان مثل حباب، ای هـــوشمند!** — **راه خـــــلوت خانه بر اغیار بند**
**فرد، فرد امـد که خود را وا شناخت** — **قوم، قوم امد که جز با خود نساخت**

**از پیـــام مصـــــــطفی اگاه شو**
**فارغ از اربـــــاب دون الله شو**

**ژباړه او تشريح**: ته به تر څو د محفل تر څراغ طوافونه کوې؟ که دې په سينه کې زړه وي نو په خپل اور کې وسوځه. ته د خپل ديد په څېر شه او د خپلو سترګو په پردو کې اوسه. که غواړې والوځې نو والوځه، خو خپل ځای مه پرېږده. د ديد ځانګړنه دا ده چې هغه خپل ځای نه پرېږدي. هر ځای ته ځي، خو خپل ځای نه پرېږدي. يعنې په نړۍ کې وګرځه، چېرته چې علم لاسته درځي، ترلاسه يې کړه، خو د نورو رنګ مه خپلوه، ستا پر ذات باندې بايد يوازې د خدای رنګ وي. اې عقلمنه! په دې دنيا کې د بلبل په څېر د خپل خلوت د ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاره د پردیو پر وړاندې وتره. مطلب یې دا دی چې له هغو ټولو افکارو او نظریاتو څخه ځان وژغوره، چې ستا ((زه ولي)) له منځه وړي. فرد په دې فرد دی چې هغه خپل ځان وپېژانده. قوم په دې قوم شو چې پرته له ځانه یې له بل چا سره ملګرتیا ونه کړه. (معنا یې دا ده چې د فرد او قوم دواړو وجود او هستي د ((زه ولی)) پر احساس بنا ده). د رسول الله ص له سپېڅلي پیغام نه ځان خبر کړه او له الله تعالی پرته چې کوم معبودان دي، له هغو څنګ ته شه(ترې لرې شه).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لم یلد ولم یولد

(نه يې زیږولي او نه زیږېدلی دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قوم تو از رنـــگ و خون بالاتر است — قیمت یـــک اسودش صد احمر است**

**قطـــــــــره اب وضوی قنبری — در بهـــــــا برتر ز خون قیصری**

**فـــارغ از باب و ام و اعمـــام باش — همــــــچو سلمان زاده اسلام باش**

**نکته ئی ای همـــــــدم فرزانه بین — شهـــــــد را در خانه های لانه بین**

**طره ئی از لالـــــــه حـمراستی — قـــــــطره ئی از نرگس شهلاستی**

**این نمی گوید که من از عبـــــــهرم — ان نمــــــــی گویـــد من از نیلوفرم**

**ژباړه او تشریح**: اې مسلمانه! ستا قوم له رنګ او وینې لوړ دی او ستا د یوه تور نرخ له سلو سپینو سره برابر دی. په عموم کې سپین په تورو لوړ بلل کېږي، خو اقبال فرمايي چې د اسلام يو تور په سلګونو سپينو باندې د لوړتيا او ترجيح مستحق دی. دا لوړتيا او فضيلت د اسلام له امله ده، نه د رنګ له سببه. زموږ د غلام د اوداسه د اوبو يو څاڅکی د قيصر په څېر د پاچا له وينې څخه زيات ګرانبيه دی. ته د مور، پلار او ترونو له اړيکو خپلواک شه او د سلمان رض په څېر خپله اړيکه له اسلام سره وتړه او د اسلام زوی شه. مشهوره ده چې له حضرت سلمان رض څخه د نسب په اړه وپوښتل شو نو ويې فرمايل: سلمان بن اسلام. اې عقلمن ملګريه! تاته يو مهم ټکی ښايم، ته د مچيو د ځالې غارونو ته ځير شه. مچۍ د ګلانو شيره را زېښښي او بيا شات ترې جوړوي. يو څاڅکی د لاله له سره ګله اخيستل کېږي، يو څاڅکی بيا له نرګس نه، خو آيا کله دې اورېدلي دي چې کوم څاڅکي دې ويلي وي: ((زما اصل نرګس دی)) او بل ويلي وي: ((زه د نيلوفر له شيرې څخه جوړ يم؟)) (ګواکې شات له بېلا بېلو ګلانو څخه تيار شوو، خو په ځاله کې يې جنس يو شو. همدا کيفيت باید د اسلامي ملت هم وي، په دې معنا چې لکه څرنګه چې هر څاڅکی خپله پېژندګلوي هېره کړې او يوازې شات جوړوي، په همدې ډول هر مسلمان بايد خپل نسلي، جغرافيوي او ډله ييزه پېژندګلوي هېره کړي او ځانته يوازې مسلمان ووايي.)

**مـــلت ما شان ابراهیمی است — شهد ما ایمان ابراهیمی است**

**گر نسب را جزو مـلت کرده ئی — رخنه در کار اخـــوت کرده ئی**

**در زمین ما نگیرد ریـــــشه ات — هست نا مسلم هنوز اندیشه ات**

**ژباړه او تشريح**: زموږ ملت د شاتو هغه ځاله ده چې د ابراهيم عليه السلام په لاسونو جوړه شوې او په هغې کې شات هغه ايمان دی چې عملي ثبوت يې حضرت ابراهيم عليه السلام پخپله ورکړ او د همدې ايمان بلنه او دعوت د هغه پر ژبه روان شو. که ته نسب او نسل د ملت جز وګرځوې نو ښکاره ده چې د اخوت په کاروبار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې به خنډ را ولاړېږي، یعنې وروګلوي به څرنګه هغسې پاتې شي، چې له رنګ،نسب او وینې څخه ډېره لوړه ده. په یاد لره چې زموږ په څمکه کې ستا ریښه نښې نه شي وهلی ځکه چې ستا افکار او نظریات لا تراوسه پورې نامسلمان دي.

| | |
|---|---|
| **ابن مسعود ان چراغ افروز عشق** | **جسـم و جان او سراپا سوز عشق** |
| **سوخت از مــرگ برادر سینه اش** | **اب گـــــــردید از گداز ائینه اش** |
| **گریه هـــای خویش را پایان ندید** | **در غمش چون مادران شیون کشید** |

**ژباړه او تشریح**: نامتو صحابي حضرت عبدالله ابن مسعود رض[1] د عشق څراغ روښانه کاوه. د هغه بدن او زړه د عشق له تودوالي ډک وو. د هغه سپېڅلی ذات د حق د عشق په لاره کې وقف شوی وو. د هغه ورور له نړۍ سترګې پټې کړې، له دې پېښې یې سینه وسوځېده او د زړه هینداره یې د اوبو په څېر ویلي شوه. د هغه ژړا به هېڅ نه ختمېده او د ورور په غم کې به یې د میندو په څېر آه او ژړا کوله.

| | |
|---|---|
| **"ای دریغا ان سبق خوان نیاز** | **یار من اندر دبستـــــان نیاز"** |
| **"اه ان سرو سهی بـــالای من** | **در ره عـــشق نبی همپای مـن"** |
| **"حــیف او محروم دربــار نبی** | **چشم مـن روشن ز دیدار نبی"** |
| **نیست از روم عرب پیونـد ما** | **نیـــست پابند نسب پــیوند ما** |

**ژباړه او تشریح**: ویل به یې: ((افسوس هغه د عقیدتمنۍ درس اخیستونکی چې د نیازمنۍ په ښوونځي کې به له ما سره ملګری وو. وای، د سروې د ونې غوندې لوړ او دنګ ورور چې د پیغمبر ص په عشق کې به له ماسره برابر روان وو. افسوس! هغه د نبي کریم ص له دربار څخه محروم شو او زما سترګې د پیغمبر ص په زیارت روښانه دي. یعنې حضرت عبد الله بن مسعود رض په دې نه وو غمجن چې د هغه ورور مړ شوی دی بلکې ځکه غمجن چې وو چې د هغه ورور د پیغمبر ع له زیارت څخه محروم شوی وو. زموږ ترمنځ اړیکه د رومي او عربي په اساس نه ده او نه له نسب سره کومه اړیکه لري. یعنې زموږ په نزد نه جغرافیوي حدود کوم حیثیت لري، نه نسب او نه هم وینه.

[1] حضرت عبد الله بن مسعود رض د حضرت مُحَمَّد ص له جلیل القدیر صحابوو څخه وو. له ده نه مخکې یوازې پنځو تنو اسلام قبول کړی وو او په ((سابقون الاولون)) کې راځي. نوموړي د بدر د غزوې په ګډون په هره لویه غزا کې ګډون کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دل به محبوب حـــجازی بسته ایم ‌‌‌ ‌‌ز ین جهــت با یکدیگر پیوسته ایم
رشته ما یک تو لایش بــــس است ‌‌ چشم ما را کیف صهبایش بس است
مستی او تا بـــــــخون ما دوید ‌‌ کهـــــــنه را اتش زد و نو افرید
عشق او ســــــرمایه جمعیت است ‌‌ همچو خون اندر عروق ملت است
عشق در جان و نسب در پیکر است ‌‌ رشته عشق از نسب محکم تر است

**ژباړه او تشریح**: موږ له حجازي محبوب سره زړه وابسته کړی دی. په همدې سبب له یو بل سره زموږ اړیکه رامنځته شوې. همدا مینه زموږ په نزد یوه داسې اړیکه ده چې له هغه نه زیات هېڅ بلې اړیکې ته اړتیا نشته. زموږ د سترګو لپاره د پیغمبر ع د شرابو نشه بسندویه ده. کله چې د دې شرابو مستي زموږ په وینه کې ګډه شوه نو څومره پخوانۍ اړیکې او تعلقات چې وو، ټول یې وسېځل او یوه نوې اړیکه یې رامنځته کړه. د رسول الله ص مینه زموږ لپاره د یووالي عنصر دی. دا مینه د ملت په رګونو کې د وینې په څېر حرکت کوي. عشق زړه ته کوزېږي او نسب یوازې تر جسم پورې محدود وي. له دې نه ثابته شوه چې د عشق اړیکه د نسب له اړیکې ډېره قوي او پیاوړې ده.

عشق ورزی از نســـب بایــد گذشت ‌‌ هم ز ایــــران و عرب باید گذشت
امــــــت او مثـل او نور حق است ‌‌ هستـــی ما از وجودش مشتق است
"نور حق را کس نـــجوید زاد و بود ‌‌ خلعت حق را چه حاجت تار و پود"
هر که پا در بند اقلیم و جـــد است ‌‌ بـی خبر از لــم یلد لم یولـد است

**ژباړه او تشریح**: که دې له پیغمبر ع سره زړه لګولی نو له نسب نه دې اړیکه پرې کړه، بلکې له ایران او عرب سره هم خپله اړیکه وشلوه. یعنې د نبوي عشق لومړنۍ غوښتنه دا ده چې هر ډول نسلي ویاړونه او امتیازات باید له منځه لاړ شي. د پیغمبر ع امت هم د نبي کریم ص په څېر د الله تعالی نور دی. زموږ هستي د پیغمبر ع د وجود له برکته پیدا شوې ده. د الله تعالی د نور اصل حیثیت څوک لټوي؟ کوم خلعت چې له حق سره اړیکه لري، هغه بیا ها او دا ته څه اړتیا لري؟ دا شعر د مولانای روم د مثنوي دی. یعنې د الله تعالی د نور په اړه هېڅوک هم نه پوښتي، چې دا نور چېرته پیدا شو او دا چې دا نور د کوم هېواد دی. دغه راز مسلمان هم باید له اسلام پرته بله کومه پېژندګلوي ونه لري. د چا پښې چې د هېواد او پلار و نیکه په زولنو تړلې وي، باید باوري وي چې د **لم یلد و لم یولد** له حقیقت څخه ناخبره دی، یعنې د سوره اخلاص د دې برخې معنا همدا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نه مسلمان د کوم جغرافیوي هېواد او ولایت پابند وي، نه د نسب او رنګ. کوم مسلمان چې د دې اړیکو په لومه کې نښتی وي، هغه پر **لم یلد و لم یولد** د رښتیني ایمان مستحق نه شي ګڼل کېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولم یکن له کفوا احد

**(او نه یې هېڅوک سیال شته)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مسلم چشم از جهان بربسته چیست؟ فـــطرت این دل بحق پیوسته است**

**لاله ئی کو بر ســـــر کوهی دمید گوشـــــــه دامـــان گلچینی ندید**

**اتش او شعله ئی گـــــــیرد به بر از نفـــــــس های نخستین سحر**

**اسمان ز اغوش خـــــود نگذاردش کوکـــــب وامـــانده ئی پنداردش**

**بوسدش اول شـــــــعار افتاب شبـــنم از چشمش بشوید گرد خواب**

**ژباړه او تشریح**: مسلمان، چې له نړۍ څخه یې سترګې پټې کړې دي، څه دی؟ له الله تعالی سره د دې مینې کوونکي په اړه څوک څه پوه شي؟ د هغه مثال د لاله هغه ګل ته ورته دی چې د غره په څوکه را زرغون شوی او همالته وده او رشد کوي. هېڅ د ګلانو د راټولوونکي د لمن کونج یې نه وي لیدلی، یعنې تر دې ګل پورې هېڅ کله هم د ګلانو د راټولوونکي لاس نه وي ور رسېدلی. یعنې له باطلو نظریاتو او سوچونو څخه د ښتیني مسلمان لمن تل خوندي وي. د دې ګل اور د سهار په لومړنیو ساوو لمبور کېږي. آسمان یې له خپلې غېږې څخه دباندې نه پرېږدي. همداسې انګېري چې هغه کوم ستوری دی چې په لاره کې له نورو ستورو شاته پاتې شوی دی. تر ټولو مخکې د لمر وړانګه دا ګل ښکلوي او پرښه د هغه له سترګو د خوب ګرد او غبار وینځي. یعنې کوم مسلمان چې له دنیا څخه بې نیازه خپله ((زه ولي)) ساتي، ټول کاینات د هغه تابع وي او د هغه د زړه په لاسته راوړو کې لګیا وي.

**رشته ئی با لم یـــــکن باید قوی تا تو در اقـــــوام بی همتا شوی**

**انکه ذاتش واحد است و لا شریک بنـــــده اش هم درنسازد باشریک**

**مـــــؤمـــن بالای هر بالا تری غـــیرت او بر نـــتابد همسری**

**خـــرقه "لاتحـــــزنوا" اندر برش "انتم الاعلـــون" تاجی بر سرش**

**ژباړه او تشریح**: فرمایي: اې مسلمانه! ته باید د خدای له دې صفت سره قوي اړیکه ولرې چې په ((لم یکن له کفوا احد)) کې یاد شوی دی یعنې له هغه سره هېڅ څوک هم برابر نه دي. که دا اړیکه پیاوړې شي، نو ته به د دنیا په قومونو کې بې ساری وګرځې. هغه پاک ذات چې یو دی او هېڅ شریک یې نشته. د هغه بنده هم کوم شریک نه شي منی. مؤمن له هر لوړ څخه لوړ دی. د هغه غیرت د چا سیالي نه شي زغمی. هغه د ((لاتحزنوا)) خرقه په ځان کړې وي یعنې د هېڅ شي غم ورسره نه وي او د ((انتم الاعلون)) تاج یې پر سر ایښی وي. ((لاتحزنوا وانتم الاعلون: اشاره ده د سوره آل عمران دې آیت ته: وَلاَ تَهِنُوا وَلاَ تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مُّؤْمِنِينَ(آل عمران: 139) ژباړه: نو مه سستېږئ او مه خپه کېږئ او همدا تاسې برلاسي یاست که مؤمنان اوسئ.))

| | |
|---|---|
| می کشد بار دو عــالم دوش او | بحر و بر پرورده اغـــوش او |
| بر غو تنــدر مدام افکنده گوش | برق اگر ریزد همی گیرد بدوش |
| پیش باطل تیغ و پیش حـق سپر | امر و نهی او عیـــار خیر و شر |
| در گره صد شعله دارد اخگرش | زنــدگی گیـرد کمال از جوهرش |
| در فضای این جهان هـای و هو | نغمه پیدا نیست جــــز تکبیر او |

**ژباړه او تشریح**: مسلمان د دواړو جهانو پېټی په خپلو اوږو پورته کوي. وچه او لمده دواړه د هغه په غېږ کې وده کوي. د برېښنا غږ ته د هغه غوږونه متوجه وي. او که برېښنا ولوېږي نو په خپلو اوږو يې پورته کړي. په دې شعر او مخکيني شعر کې د مؤمن بنده دا ځانګړنې بيان شوې دي چې هغه په دې نړۍ کې يو فعال رول ترسروي او په لاره کې يې چې کومې ستونزې راځي، ډېر په ورين تندي او مېړاني سره د هغو پر وړاندې درېږي. کله چې له باطل سره مخ شي، نو مؤمن يوه توره وګرځي. او کله چې د حق د خوندي کولو وار راشي، نو د سپر بڼه غوره کړي. د هماغه امر او نهي د خير او شر لپاره زرکانی او د توپير اساس دی، يعنې مؤمن چې د څه شي امر وركړي، هغه نېكي او له څه شي چې منع كوي هغه بدي وي. د هغه د سكروټو په غوټه کې په سلهاوو لمبې دي او ژوند د هغه له جوهره کمال ترلاسوي. د شور او غوغا په دې نړۍ کې د مؤمن د تکبير له نعرې پرته بله هېڅ نغمه نه شي غږېدلی.

| | |
|---|---|
| عفو و عدل و بذل و احسانش عظیم | هم بقهر اندر مــــــزاج او کریم |
| ساز او در بزم هــــا خاطر نواز | سوز او در رزم هــــا اهن گداز |
| در گلستان باعنـــــا دل هم صفیر | در بیـــابان جره باز صـــید گیر |
| زیر گردون می نیــــاساید دلش | بر فـــــلک گیرد قرار اب و گلش |
| طایرش منقـــــــار بر اختر زند | انســـــوی این کهنه چنبر پر زند |
| تو به پروازی پـــــری نگشوده ئی | کرمک اســتی زیر خاک اسوده ئی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه او تشريح**: په ښښنه، نياو، سخاوت او نېکۍ کې د هغه مقام ډېر لوړ دی، بلکې د غوسې په حالت کې هم د هغه پر طبيعت ښښنه او لورېينه برلاسي وي. [1] کله چې په محفل کې د هغه ساز په ترنم را شي، نو زړونه خوشاله شي. کله چې د جنګ مهال را ورسېږي نو د مؤمن د ايمان تودوخه اوسپنه ويلي کړي. په بڼ کې د بلبلانو همغږی شي، په دښته او بيابان کې د شهباز بڼه غوره کړي. د هغه زړه تر آسمان لاندې نه هوسا کېږي. کله چې هغه آسمان ته ورسېږي، نو بيا د ارامتيا سا اخلي. مؤمن داسې يو مرغه دی چې په ستورو د دانو ګمان کوي او مښوکې پرې لګوي او په هغه فضا کې الوځي چې له دې آسمان ور هاخوا ده. اې د نن ورځې مسلمانه! تا خو کله د الوتنې لپاره خپلې وزرې هم نه دي پرانيستې، ستا حيثيت څه دی؟ ته هغه چينجی يې چې تر ځمکې لاندې ډاډه او مطمين ناست دی.

| | |
|---|---|
| خوار از مهـــجوری قران شدی | شکوه ســنج گردش دوران شدی |
| ای چو شبنم بر زمین افتنده ئی | در بغـل داری کتـــاب زنده ئی |
| تا کجا در خــــاک می گیر وطن؟ | رخـــت بردار و سر گردون فگن |

**ژباړه او تشريح**: پوهېږې چې ته ولې خوار او ذليل شوې؟ ستا د ذلت سبب دا دی چې تا قرآن پرېښود او د زمانې د بدلون ګيلې دې پيل کړې. [2] اې د پرښې غوندې پر ځمکې ورېدونکيه! له تا سره د قرآن کريم په صورت کې يو ژوندی کتاب موجود دی، ته له هغه د ژوند درس واخله. ته به تر کومه همداسې له ځمکې سره نښتی يې او د ذلت او خوارۍ اوسنی حالت به زغمې. پاڅه، خپله توښه درسره واخله او د اسمانونو لوړې لمس کړه.

***

---

[1] پدې شعر کې علامه اقبال رحمه الله د مؤمن انسان ځانګړنې د قرآن کريم د دې آيت په رڼا کې بيان کړې دي: الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاء وَالضَّرَّاء وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ (العمران: ۱۳۴).

ژباړه: **هغوی چې په پراخۍ** او تنګسه کې لګښت کوي او غوسه زغمونکي او له (بدۍ د) خلکو تېرېدونکي او الله (داسې) نېکان خوښوي.

[2] يعنې قرآن چې د عمل کوم **درس راکړی وو ، هغه مو له ياده ووېست** او په بې عملۍ اخته شوو او بيا خپل دا بد حالت د تقدير کار ګڼو او ګيلې او شکايتونه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرچينې:**


- د رموز بيخودي منظومه ژباړه — ژباړن: کوکب شاداني
- د کليات اقبال فارسي شرحه — پروفيسر حميد الله شاه هاشمي
- فيروز اللغات فارسي – اردو
- مجلس اقبال لومړۍ برخه — غلام احمد پرويز
- فلسفه ديد او نظر کرنل — عابد حسين عابد
- د جسارت اوونيزه (۲۶ اکتوبر ۲۰۱۳)
- **For Persion text:**
- **www.allamaiqbal.com**
- **for Arabic text and the translation of Holy Quran**
- **Tanzil.net**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**